مصطفی پسرلی
۲۰۲۱/۱۱/۱۵

# غزل

د خیالونو په بازار کښې تش خیالونه ګرځومه
د بدرنګه وخت شپېو کښې ښایستونه ګرځومه

دا اوس زه لیونی شوی، که جهان ټول لیونی دی
د تیارو په ډک تور ښار کښې مشالونه ګرځومه

پرهرونه په ما ګران دي له خندا کومه کرکه
خندا کله، کله راشي پرهرونه ګرځومه

لاس او پښې مو دي تړلي د چرګانو په څیر مرو مونږ
د پښتو ساه ده وتلې، تاوانونه ګرځومه

راشه، راشه پسرلیه نن په چغو، چغو ژاړو
د سکون نشه نړی کښې فغانونه ګرځومه

مصطفی پسرلی
15/Nov/2021


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ